# د خوشال په شاعري کښې پښتني ګڼې (زيورات)

# The Pashton's Gāṇe (Jewels) in Khoshal Khan Khattak's Poems

Razia Andar [1]

Khoshal Khan Khattak is a prominent personality in the history of Pashto literature. It has been 340 years since he has passed away, and there has not still been anyone in Pashto literature to be a well-known poet like him in terms of quality and quantity. The Khushal Khan poetry is covering the different aspects such as – history, geographical, medical, political, ethical, religion, and other hundreds of issues have reflected in it. He has explained on life, arts, tribes, beauties, clothes, and other things of Pashtons and has mentioned them in his poems. In this paper, those Gāṇe (Jewels) have been identified, which Khushal Khan has mentioned in his poems: for instance, ogai, bāhoo, bisra, pāwli, pāilo, pezwān, ṭeeck, jawāwəle, čārgwəl, saṛəy, halqay, dookdokai, ɣamai, ɣotyālee, kaṭmāla, kwənjəka, gwətma, laṛ (laṛai), lashtai, lawangin, məshkəṇe, manni, nəta, washai, Hār and Hickal. These Jewels are according its structure are two types: Metallic Jewels and Non-metallic Jewels. So, in this paper, only metallic Jewels will be identified.

پښتني ګاڼې د پښتني فرهنګ هغه برخه ده چې زرګونو کاله ترې پښتون قوم د ځان سينګاروني او خپل شخصيت راڅلوني له پاره کار اخيستے دے . مونږه په عام ډول پښتني ګاڼې هم نۀ څېړو، بلکې يوائې د پښتو ادبياتو د کلاسيک دور د نوميالي او بې جوړې شاعر خوشحال خان خټک په شعرونو کښې يادې شوې ګاڼې څېړو.

ګاڼه د انساني ښکلا يوه وسيله ده، انسان له زېږېدو تر مړينې د ځان سينګارولو او ښکلا هڅه کوي. په سمه توګه څرګنده نۀ ده چې ګاڼه څومره وخت پخوا جوړه شوې او کارېدلې ده؛ خو د ځينو شواهدو له مخې داسې څرګندېږي چې انسان زرګونه کاله پخوا جوړه کړې او کارولې ده. پښتون قوم اوږد تاريخ درلودلے او لري ئې. پښتون قوم هم په خپل وار د نړۍ د تمدنونو په رامنځ ته کولو او پاللو کښې ونډه اخيستې ده. د آسيا په لويه وچه کښې د هند، افغانستان او پاکستان د تمدنونو ډېرې دورې

---

1 Assistant Professor, Academy of Sciences Kabul , Afghanistan

د پښتون قوم په برکت رامنځ ته شوې او پالل شوې دي. د هند دولت د تمدن او دولتدارۍ په برخه کښې تر اوسه په "سوري" شېرشاه وياړي .

طبيعي خبره ده چې دې قوم هم د ځان سينګارونې له پاره له ډول ډول وسايلو او ګاڼو څخه کار اخيستې دے. په ګاڼو او پښتني ګاڼو به په کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنتون، د افغانستان په علومو اکاډمي او د هېواد په نورو پوهنتونونو کښې ليکنې شوې وي؛ خو ما په دې موضوع بيا ځکه کار وکړ، چې زما کار له هغو سره توپير لري. توپير ئې دا دے چې ما يوائې په داسې مشخصه موضوع کار کړے، چې تر اوسه پرې چا کار نۀ دے کړے او يا پرې زۀ خبره نۀ يم، هغه د خوشحال خان خټک په اشعارو کښې د پښتني ګاڼو ياد دے. د دې مقالې په خپرېدو سره به د ادبياتو او په ځانګړي ډول د خوشحال خټک مينه والو ته جوته شي، چې هغه په خپلو شعرونو کښې کومې ګاڼې يادې کړې دي. تر ممکنه بريده به په دې اړه مينه والو ته معلومات هم وړاندې شي، چې د دغو څو سوو کالو په اوږدو کښې په ګاڼو کښې څه تغييرات راغلي دي؟ کومې ګاڼې نوې دود شوې دي؟ کومې په خپل حال پاتې شوې دي او کومې هغه وخت موجودې وې او اوس له منځه تللې دي؟ بده به نۀ وي که په اصل موضوع له خبرو کولو نه مخکې د ګاڼو جوړښت، مخينه او د کارېدنې ډول يو څۀ وڅېړو.

## د خوشحال خان خټک په اشعارو کښې ګاڼې

مخکې له دې چې د خوشحال خټک په شاعرۍ کښې يادې شوې ګاڼې تشريح او توضيح کړم، د ګاڼو په جوړښت، سابقې او د استعمال په ډول بايد لږه رڼا واچول شي.

### الف- جوړښت

ټول انسانان په يوه يا بل ډول د ځان سينګارولو او ځان ښايسته ښکاره کولو هڅه کوي. د ښايست په اړه قرآني آيتونه او نبوي حديثونه هم شته دي. د ښايست د دې هڅې لېوالتيا ښځينه او نرينه دواړه لري. دا هڅه او لېوالتيا د انساني فطرت غوښتنه ده؛ خو ښځې په دې ډګر کښې تر نرينه وو وړاندې

دي . ښځينه د نارينه وو په پرتله ګاڼې ډېرې استعمالوي او په پښتني ټولنه کښې خو تقريباً ټولې ګاڼې ښځو ته ځانګړې دي.

ګاڼې د جوړښت د توکو له مخې په لويه کښې په دوه ډوله وېشل کېږي: فلزي او غيرفلزي. ګاڼې له بېلابېلو څيزونو څخه جوړېږي لکه فلزات، قيمتي ډبرې، ښيښې، پلاستيک، هډوکي، لرګي او نور. هغه فلزات چې ګاڼې ترې جوړېږي: سرۀ زر، سپين زر، ژېړ، مس، اوسپنه، الماس او نور دي.

له سرو زرو څخه ټيکه، بنګړي، ګوتې، والۍ، چارګل، پېزوان، امېل، غوتۍ، وښي، لښتۍ، غوزې، باهوګان او نور جوړېږي. څرنګه چې سرۀ زر له نجيبه او قيمتي فلزاتو څخه دي؛ نو له سرو زور څخه زياتره هغه ګاڼې جوړېږي، چې سپکې او ورې وي. سره له دې چې څوک چې شتمن وي او د جوړولو وس ئې لري؛ نو ټولې هغه ګاڼې هم ورڅخه جوړوي، چې له سپينو زرو او يا نورو فلزاتو څخه جوړېږي.

له سپينو زرو څخه هم ټولې هغه ګاڼې جوړېږي چې له سرو زرو څخه جوړېږي، لکه: ټيکه، بنګړي، ګوتمۍ، والۍ، چارګل، پېزوان، هار يا مڼې، غوتۍ، وښي، لښتۍ، غوزې، باهوګان او نورې. سپين تر سرو زرو ارزان دي؛ نو درنې او غټې ګاڼې، لکه اوږۍ، غوزې، لښتۍ، باهوګان، والۍ، وښي او نور زياتره له سپينو زرو څخه جوړېږي. همدارنګه له نورو فلزاتو، لکه ژېړو، مسو، اوسپنې او الماسو څخه هم پر پورتنيو ګاڼو سربېره نورې ګاڼې، لکه چمکلي، روپۍ، ببرې روپۍ، پاولي، زنځيرونه، جوغاول، بهادرۍ، مډالونه او نورې جوړېږي.

پلاستيک هم په دې وروستيو کښې په ګاڼو کښې ډېر رول لري . ډېرې ګاڼې له پلاستيک څخه هم جوړېږي، لکه بنګړي، ساعتونه، والۍ او ځينې نورې ګاڼې.

په همدې ډول په ګاڼو کښې له قيمتي ډبرو، لکه زمردو، ياقوتو، بيروجو، عقيقو، لعلو او نورو څخه هم ګټه اخيستل کېږي. له قيمتي ډبرو څخه زياتره د غميو، هارونو او نورو ګاڼو په ښکلا کښې ګټه اخيستل کېږي. همدارنګه له ښيښې څخه هم په ځينو ګاڼو کښې د ښکلا زياتېدو له پاره کار اخيستل کېږي، لکه ستارې او په ځينو ګاڼو کښې د آيينې په توګه د ځلا له پاره ښيښې استعمالېږي.د يادولو وړ ده چې هره ګاڼه څو ډوله لري او په بېلابېلو سبکونو جوړېږي.

**ب- د کاڼو مخینه**

د کاڼي او پسول د پیدایښت په باب د پوهانو او په تېره د لرغونپېژندونکو نظر دا دے، چې کاڼه د انسان له پیدایښت او د ژوند له لومړني پړاو سره یوځای پیدا شوې ده او څرګ ئې د سمڅو او غارونو د اوسېدونکو انسانانو د ژوند په وخت کښې لیدل شوے دے. پوهان وائي، چې په سمڅو او غارونو کښې داسې نخښې او نښانې د لرغونپېژونکو له خوا موندل شوي چې انسان لا هغه وخت د خپل وجود، تنې او بدن په بېلابېلو برخو باندې د ښکلا، ښایست او ځان ښو اېسېدو له پاره، لومړنۍ کاڼه استعمال کړې ده.(۱)

داسې اټکلونه او ځینې شواهد شته چې وائي انسانانو زرګونه کاله مخکښې کاڼه جوړه کړې او استعمال کړې ده:

> غرېي څېړونکو ویل چې انسان ۲۵ زره کاله پخوا کاڼه جوړه کړې او کارولې ده؛ خو په ۲۰۰۶ز کال کښې داسې نخښې په لاس ورغلې چې ښیي انسان ۹۰ زره کاله پخوا کاڼه جوړه کړې او دا کاڼه ئې د مېوو له زړو څخه جوړه کړې ده.(۲)

د لرغونپوهانو د څېړنو له مخې، انسان د ژوند په پیل کښې د ځان سینګارونې او ډولي کېدو له پاره، د مړو ژویو او ځارویو له غاښونو او نورو مهینو (نازکو، هوارو) هډوکو څخه، د کاڼي په ډول استفاده کړې ده. د ژویو د غاښونو هډوکي، چې مهین او ښوے به ورمعلومېدل، د لمر د شغلو په لګېدو سره ئې پړک او ځلا کوله، یو ځاے د یوۀ تار په ډول څنګ په څنګ سره پېیل او د غاړکیو په ډول به ئې استعمالول. دا شان به ئې په لاسو او متو پورې راځوړندول، چې نخښې او نښانې ئې اوس هم په افریقایي لومړنیو ټولنو او کلیو کښې چې له تمدن څخه لیرې دي، تر سترګو کېږي. په دې اړه لرغونپېژندونکو ډېرې څېړنې کړې دي. د وخت او پېړیو په تېرېدو سره، چې د انسان په ژوند کښې پرمختګ راغی، انسانانو د دغو لومړنیو کاڼو د جوړولو له تجربې څخه په استفادې په خپلې پوهې سره نوې کاڼي جوړې او رامنځ ته کړې دي.

په هرحال کاڼه چې ځینې پښتانه ئې پسول هم بولي، زمونږ د آریایانو په لرغوني آریایي تمدن کښې ئې یادونې په آریایي پخواني تاریخ کښې راغلې دي وائي، چې لرغونو آریایانو تر مېلاد دوه زره کاله پخوا

بېلابېلې او ډول ډول کاڼي په بېلابېلو ډولونو او سایزونو سره یعنې لوئي او ورې جوړولې، چې د ځان سینګار او ښکلا له پاره به ئې د خپل بدن په بېلابېلو برخو راځړولې. د ګاڼو په استعمال کښې آریایي قومونو پوره برخه درلوده، چې نرو او ښځو دواړو به کارولې. د ګاڼو دغه دود له لرغوني آریایي تمدن څخه تر نن پورې په آریایانو کښې راپاتې دے او اوس هم په مینه پالل کېږي.

افغانان او په ځانګړي ډول پښتانۀ د آریایي توکم د یوۀ مېړني قوم په توګه تر اوسه دغه لرغونی آریایي میراث په مینه سره پالي او په بېلابېلو پښتني قبیلو، خېلونو او کورنیو کښې ډول ډول ګاڼې استعمالېږي، چې د هرې سیمې زرګران ئې په خاص مهارت سره جوړوي. ګاڼو اوسمهال سوداګریز اهمیت هم پیدا کړی دے.

په هر صورت، ګاڼه چې هر څومره مخینه لري، خو موږ ئې د خوشحال په زمانه کښې اهمیت د هغه له خولې داسې اورو:

د پسالۀ صفت ئې شي، د رنګ ئې نۀ شي
څوك چې پورې په بدرنګه ناوې پسول کا

که له پورتنیو ټولو شواهدو او دلایلو تېر شو او یوائې د خوشحال ختک په اشعارو کښې هم د پښتني ګاڼو د یاد څرک ولټوو؛ نو هم پوهېږو چې لږ تر لږه څلور سوه کاله پخوا هم ډېرې اوسنۍ مروجې ګاڼې په پښتني ټولنه کښې دود وې او استعمالېدې.

## ج- د کارېدنې ډول

یوائې پښتون قوم نه، بلکې د نړۍ بېلابېل قومونه هم ګاڼې کاروي . هر قوم ځینې ځانګړې ګاڼې لري او ځینې بیا تقریباً په لږ و ډېر توپیر د زیاترو قومونو تر منځ شریکې وي. هر ګاڼه پر بدن د ځړولو او کارېدلو ځانګړے ځاے لري. د ساري په ډول چارګل په پوزه کېږي، ګوتمه یا ګوته په لاس کېږي، بنګړي، وښي او باهوګان مړوند ته اچول کېږي. اوږۍ غاړې ته اچول کېږي، مئے یا هار په غاړه کېږي او معمولاً پر سینه راځړېږي؛ نو ویلاے شو چې هره ګاڼه د بدن په یوه ځانګړي ځاے ځړېږي یا استعمالېږي. له پښو نیولې تر سر پورې په زیاترو غړیو ځانګړې ګاڼې استعمالېږي. ځینې ګاڼې

کونډې لري چې په جامو یا ویښتانو کښې ټومبل کېږي، ځینې نورې تارونه لري چې په جامو پورې ګنډل کېږي؛ خو ځینې بیا نېغ په نېغه د بدن له غوښې سره کلکېږي. زه به هڅه وکړم چې د هرې ګاڼې د جوړښت په توکو او د کارېدنې پر ځاے لنډه لنډه تبصره وکړم.

## ګاڼې د استعمال د ډول له مخې

د استعمال د ډول له مخې ګاڼې په درې ډولونو وېشلاے شو:

- هغه ګاڼې چې نېغ په نېغه د انسان له غوښې سره په تماس کښې وي، په دې ګروپ کښې دا ګاڼې شاملې دي: چارګل، پېزوان، نتکۍ، بنګړے، باهو، وښے، ګوتمه، پایزېب، مېخکے، لښتۍ، غوزه، والۍ، موندرۍ، اوږۍ، چمکلے، ډیوډ یا ډیډه، ستورږه او کنګڼ.
- هغه ګاڼې چې د سر په ویښتانو کښې ټومبل یا کلکېږي، په دې ګروپ کښې دا ګاڼې شاملې دي: ټیک، جنجالې یا جنجاول، څاواره او نورې. د یادولو وړ ده چې ځینې ګاڼې په ټیکرې، پړونې، شال او زړوکې پورې نښلول کېږي، لکه: ستارې، سرۍ او نورې.
- هغه ګاڼې چې په کمیس پورې نښلېږي، په دې ګروپ کښې دا ګاڼې شاملې دي: پاولې یا پټرې، بهادرۍ، ببرې روپۍ، شالمۍ، چنده نار، تعویز او نور.

زهٔ به هڅه وکړم، هغه ګاڼې په ګوته کړم چې پخوا دود وې؛ خو اوس یا نه استعمالېږي او یا ئې کارېدل کم شوي دي. هغه ګاڼې به هم په ګوته کړم چې پخوا دود نهٔ وې؛ خو اوس دود شوي او په پښتنې ټولنه کښې یو شمېر مینه وال لري.

هڅه وکړم به چې د ځینو ګاڼو د له منځه تلو او یا دودېدو په لاملونو هم د خپل توان په اندازه رڼا واچوم؛ خو لکه چې څرګنده ده ځینې پښتنې قبیلې او ځینې پښتنې سیمې ځینې ګاڼې زیاتې استعمالوي او په ځینو کښې بیا هغومره مروجې نهٔ وي، له همدې امله ښایي په دې اړه زما معلومات نیمګړي وي.

زهٔ ګاڼې د جوړښت د توکو له مخې په فلزي او نافلزي باندې وېشم. لومړے فلزي ګاڼې معرفي کوم، بیا ئې د کارېدو په ځاے او ډول لنډه تبصره کوم او که ممکنه وي یو یو انځور ئې وړاندې کوم. ورپسې په همدې ډول نافلزي ګاڼې معرفي کوم.

## الف- فلزي ګاڼې

### اوږۍ

اوږۍ په ګاڼو کښې تر ټولو درنه ګاڼه ده چې په غاړه کېږي. دا ګاڼه دايروي شکل لري، په دواړو سرونو کښې کونډې لري چې غاړې ته واچول شي؛ نو کونډې ئې يو له بله سره کلکېږي. اوږۍ پخوا ډېرې استعمالېدې؛ اوس مهال هغومره نه استعمالېږي او که لږې لږې استعمالېږي، هغه هم په ليرې پرتو سيمو کښې، په ځانګړي ډول پښتنې کوچيانې ئې استعمالوي.

د جوړښت له مخې د اوږۍ عمومي بڼه يوه وه، يعنې تقريباً بيضوي ډوله وه؛ خو په جوړولو کښې ئې له بېلابېلو سبکونو کار اخيستل کېده. خوشحال خان خټک اوږۍ په خپل شعر کښې داسې ياده کړې ده:

د چا ناحقه له مرګه وېره ده
دا چار که ګورې هرګوره غوېره ده
زرګر وښې مات کا اوږۍ سازه کا
لا تر وښي نه اوږۍ بهتره ده ۳

په يوۀ بل بيت کښې بيا خوشحال خان خټک له صراحي سره د اوږۍ يو نسبت داسې بيانوي:

صراحي د سپينو زرو سپينه غاړه
سيم آسا اوږۍ دې هم په دغه شمار دي ۴




اوږې معمولاً له سپينو زرو جوړېده، ځکه په ګاڼو کښې تر ټولو درنه او زيات وزن والا ګاڼه وه، نو له سرو زرو ئې هر چا د جوړېدو توان نۀ درلودۀ، خو له سرو زرو هم شتمنو لږ و ډېرې جوړولې. همدا رنګه له نورو فلزاتو څخه هم جوړېدې.

**باهو**

باهو له سرو زرو، سپينو زرو او نورو فلزاتو څخه جوړېږي. باهو هم د بنګړي په څېر په مړوند کښې اچول کېږي، خو تر وښي پلن او درونډ وي. زياتره ئې مشرې ښځې استعمالوي. په مړوند کښې يواځې يو باهو اچول کېږي، ځکه چې د پلنوالي له امله په هماغۀ يوۀ باهو مړوند ډکېږي، نو يو باهو مړوند ته بس دے. باهو څو ډولونه درلودل، پخوا زيات استعمالېده، خو اوس ئې دومره رواج نشته، يعنې اوس پلن فلزي بنګړي څوک نه خوښوي.

خوشحال خان خټک باهو هم له ياده نۀ دے ويستلے او څو ځله ئې په خپلو شعرونو کښې ياد کړے دے:

ښاپېرۍ دې په هورته هورته ګرځي
نن په دا لوري د شاه د باهو شرنګ دے۵

خوشحال خان په بېلابېلو شعري ژانرونو کښې د ګاڼو يادونه کړې ده، د يوې څلوريزې په يوه بيت کښې د باهو يادونه داسې کوي:

چې په مړوند ئې باهو د خيال و
ګوتې د زرو غمے ئې لال و

يا وائي:

که برمنډ ئې سر يا موے وي
يا ئې ساق ګردن باهوے وي
که ويښتۀ که ئې باهوے وي

که ګردن وي که ئې روے وي ۶

د باهو په اړه خوشحال خان خټک یو بل ځاے وائي:

د خوشحال خټک د پاره چې مے خور شو
په مغان مې وښي کښېښول باهو هم لا ۷



دا د باهوګانو یوه نرۍ پلنه جوړه ده.



دا هم د باهوګانو یو بل ډول جوړه ده چې په بل ډیزاین هماغسې نرۍ جوړه شوې ده.

**بیسر**

بیسر د پوزې کومه ګاڼه ده.

جواولې، حلقې په غوږ، بیسر په پوزه
قیمتي د مرغلرو دوه لړۍ۸

**پاولي**

پاولي مشرې ښځې په لستوڼو پورې ګنډي. ګونګري او پټري هم ورپورې کلکېږي. اوس مهال د دې ګاڼې استعمال ډېر راکم شوے دے، خو په لېرې پرتو سيمو کښې لږ لږ تر سترګو کېږي.

خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کښې د پاوليو يادونه هم کړې ده، يو ځاے له مړي هم دا تمه کوي، چې د پاوليو په شرنګ را ژوندے شي، هغه وائي:

که ژوندے نه شي له مرګه عمر ئې شوم دے
چې په خاک ئې د پاوليو باندې شرنګ کړ۹

**پايلو**

عموماً له سپينو زرو جوړېږي. ګرد حلقوي شکل لري، منځ ئې خالي وي او په ښايسته نقش او سينګار سره جوړه شوې وي. لمنو ته ئې ګونګري يا غوټې وي. د خپل سيخک په واسطه بندېږي او لکه د پايزيب تر پښو کېږي.

مرصع باهو په لاس ګوټې په ګوتو
ژرنګهار ئې د پايلو د څړې ۱۰





**پېزوان**

پېزوان هم هغه ګاڼه ده چې په پښتو ادبياتو کښې ئې ډېره يادونه شوې ده او لا کېږي. پېزوان له سرو او سپينو زرو او هم له نورو فلزاتو څخه جوړېږي. پېزوان پوزې ته اچول کېږي، خو يوائې يوې

خواته. پېزوان ته ګونګري هم ځوړند وي . پېزوان د سر په ویښتانو پورې د سیخکي په وسیله کلکېږي او په پوزه کښې د چارګل غوندې کلکېږي. دا ګاڼه په هند و پاکستان کښې هم ډېره مروجه ده.

خوشحال خان خټک هم پېزوان څو ځله یاد کړے دے، هغه وائي:

سور پېزوان دې په زرګر نوے سنواریا
بیا د زړو ازار اخلې پاریا پاریا ۱۱

چې تر اور تر اوبو ووځي هاله ورشي
سور پېزوان د شاه د پوزې تر سوراخه ۱۲

یو سورکے پېزوان په پوزه
وربلوټے یو څو تاره ۱۳

ستا دا سور پېزوان چې فتنه کړ دے بې حسابه
څو رنګه فتنې چې د جهان دي واړه دۀ زده ۱۴



## ټیکه

ټیکه له سپینو زرو، کمه کمه له سرو زور او زیاتره له نورو فلزاتو څخه جوړېږي. ټیکه یا ټیک معمولاً پر تندي راځوړندېږي، خو د بدن په نورو برخو لکه سینه او اوږو باندې هم ځوړندېږي. ټیکې ته ځینې پښتانه ټیک هم وائي. د ټیک منځ زیاتره رنګه او د اوسپنیزې روپۍ په څېر ګرد وي. ټیکه

اوس هم ډېره استعمالېږي، خو د پخوا په پرتله ئې استعمال کم شوے دے. پر تندي د سیخکي په واسطه راځوړندېږي(۱۵). خوشحال خان خټک ځو ځایه ټیکه په خپلو شعرونو کښې یاده کړې ده:

کلکونې ختې واړه، مرصع منے په غاړه
ټیکه په تندي ایښې په زلفینو عنبرینه ۱۶

بل ځاے وائي:

خداے دې تا له وربیو سترګونه وژغوري دلربایه
چې ټیکه په جبین کېږدې او سینګار وکړې ځو شانه ۱۷

یا:

سپین سبا دې ګوره د ټیکې په شفق بند کړ
جګې جګې جګې رائې واخله له جبینه ۱۸|



بل ځاے وائي:

دا یو ستورے د اسمان دے که ټیکه ده
چې ئې ایښې په جبین هسې لرې ۱۹
په بار بار دې د سینګار منت راباندې
چې د خیال ټیکه خپل یار ته په جبین بږدې ۲۰

یو هندو بلا دے چې په مکر ټيکه کښېږدي
څوک به ترې خلاصېږي هغه ځاے چې درې څلور شي ۲۱

**جواولې**

جواولې، حلقې په غوږ، بيسر په پوزه
قيمتي د مرغلرو دوه لړۍ ۲۲

**چارګل**

چارګل يوه ګاڼه ده، معمولاً له سرو او سپينو زرو جوړېږي؛ خو اوس زيات له نورو فلزاتو څخه هم جوړېږي. چارګل د پوزې ګاڼه ده او په پوزه کېږي. چارګل ډېر ډولونه لري: څومنزله ته يې بنوڅې، کوچنيو ته يې چارګل او تر ټولو کوچني ته يې مېخک وائي.



بنوڅے



د چارګل بېلابېل ډولونه

وے مې چې له نتې دې چارګل په پوزه زيب کا
وے يې دا خبرې کړه هاله که چا په تا کړې

**څړۍ**

مرصع باهو په لاس ګوتې په ګوتو
ژرنګهار يې د پايلو د څړۍ ۲۳

**حلقې**

حلقې معمولاً له سپینو زرو څخه جوړېږي؛ خو له سرو زرو او نورو فلزاتو هم جوړېږي.حلقې نرۍ نرۍ وي، په حلقو کښې پټري وي، شاته ئې کړۍ او له هغو پټري ځوړند وي. حلقه د غوږ ګاڼه ده. خوشحال خټک حلقې په خپلو اشعارو کښې داسې یادې کړي دي:

جواولې، حلقې په غوږ، بیسر په پوزه
قیمتي د مرغلرو دوه لړۍ ۲۴

**دړۍ**

خوشحال خان خټک (دړۍ) بللي خو علي محمد "منګل" په فولکلوري ګلونه کښې (دانۍ) بللي دي. دا یو ډول زر زري کاغذونه وو، چې د ناویو پر ټنډو، اننګو او زنې باندې به د سرېښنا کې مادې یا زر کنډ په وسیله کلکېدل. دړۍ به یوائې یو ځل کارېدلې او له ویښتو سره له منځه تللې.(۲۵)

له اوله په سر جوړې کا دړۍ
بیا ټیکه په ورځو کښېږدي خونړۍ ۲۶

**دوکدکې**

د ټیکې د دوکدکې لال او در دې
ګوښې ګوښې واړه کېل وته تیار دي ۲۷



**غمے (نګين)**

غمے کله کله خوشحال د کلام د رواني او د قافيوي اړتيا له مخې په دري نامه" نګين" هم ياد کړے دے. غمے جلا او مستقله ګاڼه نه ده، د نورو ګاڼو په منځ کښې د ښکلا له پاره استعمالېږي. غمي په زياترو ګاڼو کښې استعمالېږي او معمولاً له قيمتي ډبرو لکه ياقوتو، زمرودو، بيروجو، عقيقو او نورو څخه جوړېږي؛ خو له نورو توکو لکه ښيښو، پلاستيکو او ... څخه هم جوړېږي.

ترې ځلور نګينه ساز کړه
ځلور ګوتې ترې پرداز کړه۲۸
په درې ګوتو ئې ګوتې
په نګين سره وې ښتې؟



غمے په اوږۍ کښې



شنه او آبي غمي په جنجاله يا نته کښې

**غوټيالي**

له سپينو او سرو زرو جوړې ورې ورې جوړه کوبۍ دي. ښځې په ماتوۍ د تندي يا مخې ويښتان يوې او بلې خواته اړوي، ورې کوڅۍ ترې جوړوي، غوټيالي په همدغو کوڅيو کښې کلکېږي او د مخ دواړو خواو ته د څنو پر ځاے ځوړند وي.

زه د مستې په پېزوان باندې مين شوم
که د مخ کالي ئې غوره غوټيالي دي۲۹

**کټماله**

که ټیکه که کټماله که نور سینګار دے
دا همه تر تورو زلفو پورې خوار دے ۳۰

**کونجکه**

کونجه یو ډول ارزان بیه صدف دے، معمولاً ئې رنګ سپین او ایرنے خړ رنګه وي. کونجکه په پیوې پورې ګنډل کېږي، د ماشومانو په خولیو پورې کلکېږي منځ ئې خالي او سورے وي. پخوا به ماشومانو د سرونو له پاره دمولې او په سرونو باندې به ئې ځړولې. که څۀ هم کونجکه ګاڼه نۀ ده، یوائځې په ګاڼو کښې استعمالېږي، خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کښې د کونجکې یادونه داسې کړې ده:

یوه کونجکه ورسره کړه
دا نه توکه په شماره کړه ۳۱
لیونے دې د جمال نۀ یم نور څۀ یم
چې په خپله خونه نۀ پرېږدم کونجکه ۳۲

**ګوته**

ګوته یا ګوتمه هم د نورو ګاڼو په څېر له سرو، سپینو زرو او نورو فلزاتو څخه جوړېږي. ځینې پښتانه ګوتې ته ګوتمه هم وائي. ګوتو کښې ډول ډول غمي او جواهرات کېښودل کېږي. په یوه لاس کښې څو ګوتې هم اچول کېږي. ګوتمه په ګوته کېږي. ګوتې په ډول ډول بڼو او سبکونو جوړېږي او ښځې او نر دواړه ئې کاروي؛ خو د نرینه وو او ښځینه وو ګوتې سره توپیرونه لري.

د خوشحال خان په شاعرۍ کښې ئې یادونه داسې مومو:

که خبر په دا مثال ئې وئې وایه
چې په ګوته یوه دوه غمي ۳۳

ګوتې جوړې کا د زرو
کا په لاس ئې د سرو زرو ۳۴

په درې ګوتو ئې ګوتې
په نګین سره وې نښتې؟
زر ئې نه کړه سره سازه
ګوتې اے هنر پردازه ۳۵

درې څلور نګینه ساز کړه
څلور ګوتې درې پرداز کړه ۳۶




**لړ (لړۍ)**

لړۍ ته پښتانه لړ هم وائي چې د هار په څېر غاړې ته او یا هم په جامو پورې ښلول کېږي.

ژړاوې حلقې په غوږ، بېسر په پوزه
قیمتي د مرغلرو دوه لړۍ



لښتۍ

لښتۍ له سپينو زرو څخه جوړېږي او د غوزې په څېر په غوږ کښې اچول کېږي. د لښتيو له پاره غوږ پاس په کړپندوکي کښې سورے کوي، دا ځکه چې لښتۍ درنې وي؛ نو که د غوږ په نرميو کښې واچول شي د درد او د غوږ د ژوبلېدو او خرابېدو لامل ګرځي.

خوشحال خټک د پښتنې ګاڼې په توګه لښتۍ هم له ياده نه دي ويستلې او يو ځاے ئې داسې يادونه کوي:

چې له غوږو ئې مقصود مومي لښتۍ ده
چې له پوزې ئې مراد مومي لونګ دے ۳۷



منے

د پښتنو وزير قبيله هاريا امېل ته منے وائي. منے غاړې ته اچول کېږي. د وزيرو د سيمې په يوه لنډۍ کې د منے يادونه داسې شوې ده:

يو مې د غوړې منے ورک شو
بل مې پېښ شوي د ياری او تويزونه ۳۸

خوشحال خان خټک د منے يادونه داسې کړې ده:

ګلګوني خټې واړه، مرصع منے په غاړه
ټيکه په تندي ايښې په زلفينو عنبرينه۳۹



**نته**

نته سپوږمۍ ته ورته شکل لري. عموماً له سرو زرو جوړېږي. منځ ئې خالي وي، د سر په ويښتانو کلکېږي او پر پېکي يا تندي لکه د ټيک را ځړېږي. ښايي نتکۍ د همدې ګاڼې مصغره بڼه وي.

وے مې چې له نتې دې چارګل په پوزه زيب کا
وے ئې دا خبرې کړه هاله که چا په تا کړې



**وښے**

وښے هم ښکلې او ښايسته ګاڼه ده. زرګران دا ګاڼه له سپينو زرو څخه جوړوي.(۴۰) وښے ګرد دايروي جوړېږي، ډېر ښوی او مهين وي، زرګران ئې پرمخ د زياتې ښکلا له پاره په خپل هنر او مهارت سره نقشې او سينګارونه جوړوي. ځينې وښي شنه، زېړ او زرغونه غمي لري چې زرګرانو په کښې د زياتې ښکلا له پاره لګولي او کوشېر کړي وي. د غو وښيو ته رنګينه او برګ وښي ويل کېږي.

خوشحال خان خټک د وښي يادونه په خپلو شعرونو کښې څو ځايه داسې کړې ده:

د خوشحال خټک د پاره چې ے خور شو
په مغان مې وښي کېښول باهو هم لا ۴۱
که په اور کښې د سرو زرو وښے پرېوځي
عيب نشته په دا کار کښې ئې جلاے دہ ۴۲

په يوه بل بيت کښې بيا وښے داسې يادوي:

چې مړوند ځکوې له مانه زما څۀ شي
په ځکول ځکول به مات کړې خپل وښے ۴۳
زرګر وښے مات کا اوړي سازه کا
لا تر وښي نه اوړي بهتره دہ ۴۴
که د زوے زرخلخال کا
يا وښے مکروه په قال کا ۴۵



## ب- غيرفلزي ګاڼې

### لونګين

لونګين هم د لړيو ډول دے. په دې لړونو کښې د لونګو دانې پيې؛ نو ځکه ورته لونګين وائي. په لونګين کښې مرۍ يا مشکنې هم پيي. پيغلې د لونګو دانې را اخلي، د ستنې په واسطه ئې په تارونو او

مزيوك ې په رنګين ډول سره پيي او په دې ډول سره لونګين ورڅخه جوړوي. لونګين پر ښايست او ښکلا سربېره ښه بوے لري. لونګين د امېل غوندې په غاړه کښې اچول کېږي او پر ټټر راځړېږي. لونګين د ناويو په جوړه کښې ځوا يو لازمي توک و او تر څۀ بريده اوس هم دے.

خوشحال خان په خپلو شعرونو کښې د لونګين يادونه هم کړې ده، وائي:

کښېنه په انګړ کښې مخامخ چې درته ګورم
تور لونګين دواړه چندڼ هار په سينه ټال کړه۴۶
سخ د آيينې دے چې دې مخ وته تل ګوري
سخ د لونګين دے چې دې پاس په ټټر ښوري۴۷
تۀ چې سترګې ښوروې خود به پوهېږې
لونګين چې ښوروې خود به پوهېږي۴۸

**مشکنې**

مشکنې کوچنيو مريو ته وائي. مشکنې له ښيښې او نورو توکو څخه جوړېږي . مشکنې هم د سينګار يوه وسيله ده او په نورو ګاڼو کښې ورڅخه کار اخيستل کېږي. له مشکنو څخه لړونه، ځونډي، پټې، د ګوتمو پوښونه، د قلمونو پوښونه او نور شيان جوړېږي.

خوشحال خان په خپلو شعرونو کښې مشکنې هم نه دي هېرې کړې او وائي:

لال، الماس دې په جهان کښې در مرجان شته دي مشکنې
واړه هيڅ پوشيده نۀ دي د هر چا قدر څرګند دے۴۹

**هار(امېل)**

هار له سرو او سپينو زرو، نورو فلزاتو او نافلزي توکو لکه ګلانو، مشکنو، لونګو، مريو او نورو څخه هم جوړېږي. هار معمولاً په غاړه کېږي. خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کښې د هار يادونه هم کړې ده، هغه وائي:

هار د جواهرو دوه لړۍ د مرغلرو
تور وربل وودے زلفې ئې عنبرسارا ۵۰

په يوۀ بل بيت کښې وائي:

کښېنه په انګړ کښې مخامخ چې درته ګورم
تور لونګين دواړه چندڼ هار په سينه تال کړه ۵۱



**هيکل**

په ناروغ ئې خوښي لا زياته تر روغ شي
څښت، تعويز، دعا، هيکل کښي په دروغ شي

**د سينګار ځينې نور وسايل**

**تعويز**

نۀ ئې خط وي، نۀ ئې لوست، همه ټګي کا
تعويزونه به کوي، دروغ داري کا
چې ځما په خلقو، قدر و قيمت نشته
د رنځور مې بې تعويزه صحت نشته

چې رنځور له رنځه روغ شي، راته شا کا نور به بيا ځما تعويز، د چا په ملا کا

په قضا ئې رضا وروره هر چې ستا په باب ئې کړې
په هيڅ رنګ به دفع نه شي په تعويز په حمايله

د يادولو وړ ده چې خوشحال خان ختک د تعويز کلمه څو ځايه راوړې ده، خو په ټولو ځايونو کښې ئې مراد هغه تعويز دے، چې د روغتيا له پاره کېږي، نه هغه تعويز چې د ګاڼي په ډول استعمالېږي. البته همدا د روغتيا له پاره تعويز د ډېرو کارېدو او دودېدو له امله وروسته د ګاڼي په ډول هم منل شوے او کارېدلے دے، نو مونږ ئې هم ګاڼه ګڼو.




**تنبول**

له قريني داسې ښکاري چې د دنداسې، پان او لب سرېنو غونډې د سينګار کومه وسيله ده.

تورې سترګې په کجلو
په تنبولو شونډې سرېنه

**حنا (نکريزي)**

و ګور ته لاړل هغه لاسونه
چې په حنا به لاله مثال و ۵۲
فليل، چوه، رانجه نکريزې ورته پېرې
مشاطې غونډې خدمت کا د زنانو

**رانجۀ**

رانجۀ زیب نه کا په رندو سترګو
که ناز کا ناز ئې په بدرنګ نه ښايي
که رانجۀ سرے تاوده کا
اطريفل سره اوبه کا
چې د سترګو هر زحمت وي
په رانجۀ به ئې صحت و ي

**پان**

ښې غټې تورې سترګې لوے بانه نرۍ ئې ورو ځې
که پان خوري که شراب څښي تر مرۍ ئې ښکاره کېږي
نه به ماتې څڼې په مخ پرېږدم
نه به لاندې باندې لب په پانو سره کړم
بيا به صبر د خوشحال ختک ولجه کا
را څرګنده شوه سره کړې خوله په پانو
هغه شونډې چې ځايې بې پانو سرې دي
هغه شونډې څه حاجت لرے وپان ته

**کجل**

ستا دا تورې سترګې خود تورې بلا دي
درته چا وے چې ئې تورې په کجل کړه
باز چې والوځي له ځالې هاله ګوري
د کبکانو ښايسته سترګې کجلې

**پایله**

ما د خوشحال خان خټک نوے کلیات چې بشپړ بلل کېږي، سر تر پایه ولوست او هغه بیتونه مې له ځان سره یادابنت کړل، چې خوشحال خان خټک په کښې کومه ګاڼه یاده کړې وه. زما د شمېر له مخې خوشحال خان په (څه د پاسه ۶۰) بیتونو کښې ټولې(۲۹) ګاڼې یادې کړې دي. همدا رنګه ئې د سینګار ځینې نور وسایل، لکه تنبول، نکریزې، رانجه، پان او کجل هم یاد کړي دي. په دې مقاله کښې مجموعاً د ۳۲ سینګار توکو یادونه شوې ده.

له دغې جملې زه د بیسر، جواولې، څړۍ، دوکدوکۍ، کټمالې، هیکل او تنبول په بشپړه تشریح بریالۍ نه شوم؛ خو د پېژندنې او تشریح هڅه به ئې جاري ساتم.

په پایله کښې دا یادونه اړینه ګڼم چې خوشحال خټک په خپلو شعرونو کښې د ځینو داسې ګاڼو یادونه کړې چې زه ئې په تشریح کولو بریالۍ نه شوم، لکه بیسر، جواولې، څړۍ، دوکدکۍ، غوټیالې، کټماله، لړۍ، مڼے او هیکل. ځینې نورې ګاڼې مې معرفي کړي دي؛ خو انځورونه مې ئې تر لاسه نه کړے شول، لکه پېزوان، نته، کونجکه، حلقه او پایلو. په دې هیله چې د دغو ګاڼو په معرفۍ او انځورونو پیدا کولو هم بریالۍ شم.

**وړاندیزونه**

د دې مقالې په پاے کښې د پښتو ادبیاتو او فرهنګ د بډاینې له پاره په لاندې ډول ځینې وړاندیزونه کوم:

- د خوشحال خټک په کلیاتو کښې دې ته ورته نور موضوعات هم خورا ډېر دي؛ نو هغه باید تشخیص او تشریح شي چې په دې توګه خوشحال پېژندنه لا وده وکړي.
- د کلاسیکې دورې په نورو دېوانونو کښې دې هم همداسې ځینې نور مهم موضوعات تشخیص تشریح شي چې په دې ډول پښتو ادبیات غني شي.

- د کانیو د معرفۍ او انځورونو ښودلو له پاره دې اړوندې ادارې، لکه د پېښور پښتو اکېډمي، د افغانستان د علومو اکاډمي یا کوم پوهنتون یو ځانګړے علمي - څېړنیز اثر بشپړ او ټولنې ته د ګټې اخیستنې له پاره وړاندې کړي.

## ماخذونه


۱: منګل، خدیجه، په ولسي ادب کې د پسول او ګانې یاد(مونوګراف)، د ښوونې او روزنې پوهنتون، پښتو څانګه: کابل، ۱۳۸۸ل.۱۱-۱۲ مخونه.

۲: حکمتیار، ګلبدین، بایبل د قرآن په رڼا کې، لومړے چاپ، سلواغه ۱۳۸۵ل، مقدمه ۱۱ مخ.

۳: ختیک،، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل، ۴۱۰ مخ.

۴: پورتنے اثر، ۶۱۷ مخ.

۵: پورتنے اثر ، ۲۱۳مخ.

۶: پورتنے اثر ، ۱۰۲۸مخ.

۷: پورتنے اثر ، ۱۳ مخ.

۸: پورتنے اثر ، ۳۶۹ مخ.

۹: پورتنے اثر ، ۵۳ مخ.

۱۰: پورتنے اثر، ۳۷۰ مخ.

۱۱: پورتنے اثر ، ۱۶ مخ.

۱۲: پورتنې، ۱۳۰مخ.

۱۳: پورتنې، ۱۳۴مخ.

۱۴: پورتنے اثر، ۱۷۹مخ.

۱۵: حقمل، بسم الله، د ټنیوکلتور او فولکلور، ۱۳۸۳ ل، کال، ۴۵مخ.

۱۶: ختیک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل، ۱۵۸ مخ.

۱۷: پورتنے اثر، ۱۶۴ مخ.

۱۸: پورتنے اثر، ۱۶۴ مخ.

۱۹: پورتنے اثر، ۳۶۶ مخ.

۲۰: پورتنے اثر، ۳۶۳ مخ.
۲۱: پورتنے اثر ، ۲۰۸ مخ.
۲۲: رپورتنے اثر، ۳۶۹ مخ.
۲۳: پورتنے اثر ۳۷۰ مخ.
۲۴: پورتنے، ۳۶۹ مخ.
۲۵: منګل علمي محمد، فولکلوري ګلونه، د افغانستان د علوموا کاډمي: کابل، ۱۳۶۰ل. دولتي مطبعه، کال، ۸۵ مخ.
۲۶: خټک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او ویپیانګه عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل، ۳۶۹ مخ.
۲۷: پورتنے اثر، ۶۱۷ مخ.
۲۸: پورتنے اثر، ۸۱۴ مخ.
۲۹: پورتنے اثر ، ۲۷۵ مخ.
۳۰: پورتنے اثر، ۲۹۲ مخ.
۳۱: پورتنے اثر ، ۸۶۹ مخ.
۳۲: پورتنے، ۸۶ مخ.
۳۳: پورتنے اثر، ۲۸۱ مخ.
۳۴: پورتنے اثر، ۷۷۷ مخ.
۳۵: پورتنے اثر ، ۸۱۴ مخ.
۳۶: پورتنے اثر، ۸۱۴ مخ.
۳۷: پورتنے اثر ، ۲۴۰ مخ.
۳۸: شان خان ایم. ایس. ډي د سیدګي وزیرې سندره( چرګ ناري کړې) ټانک اډه، ډي. آيي خان.
۳۹: خټک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او ویپیانګه عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل ، ۱۵۸مخ.
۴۰: منګل علمي محمد، فولکلوري ګلونه، د افغانستان د علوموا کاډمي، ۱۳۶۰ل کال، ۲۶ مخ.
۴۱: خټک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او ویپیانګه عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل، ۱۳مخ.
۴۲: پورتنے اثر،۱۸۵ مخ.
۴۳: پورتنے اثر، ۲۳۱مخ.
۴۴: پورتنے اثر ،۱۲۰مخ.

۴۵: پورتنے اثر، ۱۰۷۸ مخ.

۴۶: پورتنے اثر، ۱۹۵ مخ.

۴۷: پورتنے اثر، ۲۸۶مخ.

۴۸: ختیک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل ، ۲۹۲مخ.

۴۹: پورتنے اثر، ۲۲۱ مخ.

۵۰: پورتنے اثر، ۵ مخ.

۵۱: پورتنے اثر، ۱۹۵ مخ.

۵۲: پورتنے اثر ، ۳۸۸مخ.